


# د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کي په افغانستان کي د بشري حقونو وضیعت

اگست ۲۰۲۳

رواداری
RAWADARI

www.rawadari.org

رواداری
RAWADARI

«رواداري» يو حقوق بشري سازمان دی چې د برابر او سوله ييزافغانستان لپاره کار کوي، او موخه يې په افغانستان کې د بشر حقونو د فرهنګ دودونه، وده او بالاخره د افغانستان د ټولو خلکو په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو د کړاو کمول دي.

رواداري د بشر حقونو د خوځښت په رامنځته کولو، او پر عدالت او ځواب ويلو تمرکز لري. رواداري په افغانستان کې او له هيواده بهر له افرادو او ډلو سره همکاري کوي

# لړلیک


سریزه ۴
د معلوماتو راټولولو تګلاره ۵
د مدني او سیاسي حقونو نقض ۶
د ژوند د حق نقض ۷
د ځانمرګو بریدونو له امله اوښتې مرګ ژوبله ۸
د ماینونو او له جګړې د پاتې شویو چاودیدونکو توکو له امله اوښتې ملکي مرګ ژوبله ۹
هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۱۰
د تېر حکومت د کارکوونو هدفي وژنې ۱۱
له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د ملکي خلکو وژنه ۱۲
د نورو ملکي هیوادوالو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۱۳
اجباري ورکیدنې ۱۴
خپلسرې او غیر قانوني نیونې ۱۶
د تېر حکومت د د کارکوونکو غیر قانوني نیونې ۱۶
د مدني فعالانو، د بشر حقونو مدافعانو او خبریالانو غیر قانوني نیونې ۱۷
د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور په خپلسرې ډول د خلکو نیول ۱۸
د خپلسرو او غیر قانوني نیونو نور موارد ۱۸
د انساني کرامت د حق نقض ۱۹
زندانیانو سره ناوړه چلند او ربړول (شکنجه) ۱۹
د بندیانو وژل ۲۰
ظالمانه او غیر انساني مجازات ۲۰
د سوله ییزو لاریونونو ځپل ۲۱
د ښځو حقوق بشري وضعیت ۲۲
د ښځو د زده کړې د حق نقض ۲۳
د کار او بوختیا له حق څخه محرومیت ۲۴
روغتیایي خدمتونو ته محدود لاسرسی ۲۵
د آزاد تګ راتګ حق ۲۶
عدالت ته د تاوتریخوالي د قرباني ښځو د لاسرسي نشتوالی ۲۶
پایله ۲۸
وړاندیزونه ۲۸

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۲۳ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت د ارزونې او تحلیل په موخه، د مدني او سیاسي حقونو د نقض او د ښځو د بشري حقونو د وضعیت پر مهمو پېښو تمرکز کوي. د دې راپور د موندنو پر بنسټ، په یاده موده کې د تېرو کلونو په پرتله تروریستي بریدونه او وسله والې شخړې کمې شوې دي او په دې پېښو کې د رامنځته کېدونکې ملکي مرګ ژوبلې کچه هم کمه شوې؛ خو د ژوند د حق نورې بڼې او په ځانګړې ډول هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې لا هم په پراخه توګه د طالبانو او نامعلومو کسانو له خوا ترسره شوې دي.

همدا راز، د هیواد د وګړو، په ځانګړي ډول د ښځو د سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي ژوند په بېلابېلو برخو کې ورځ په ورځ زیاتېدونکې محدودیتونه رامنځته شوي او طالبانو په دې موده کې له هیڅ ډول ځواب ویلو او د مسئولیت له احساس پرته، په تاوتریخوالي سره د اعتراضي غونډو او راټولېدنو ځپلو، د مخکني حکومت د کارکوونکو، معترضو ښځو او نارینه ؤ، د بشر حقونو د فعاالنو، خبریاالنو او د خپلو مخالفینو خپلسرو او غیرقانوني نیونو ته ادامه ورکړې. د طالبانو له خوا د پراخو محدودیتونو پلې کول او په زور او تاوتریخوالي سره تحمیلولو په ټول هیواد کې د ځپلو او ډار فضا رامنځته کیدلو باعث ګرځیدلي ده. دغه وضعیت د ۲۰۲۲ کال په پرتله په بېلابېلو اړخونو کې لا خراب شوی او طالبانو پر هر ډول مدني، فردي او ډله ییزو هڅو کړی تنګه کړې ده.

سربېره پر دې، د زندانیانو سره ناوړه چلند او شکنجه، ظالمانه او غیر انساني مجازات د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د طالبانو له خوا د بشر حقونو د نقض نور جدي موارد دي چې رواداري هغه مستند کړي او په دغه راپور کې یې انعکاس ورکړی دی.

تمه کیږي چې د دې راپور موندنې او وړاندیزونه د نړیوالې ټولنې، ملګرو ملتونو سازمان، بشري حقونو سازمانونو، حاکمو چارواکو او نورو اړوندو مراجعو د جدي پاملرنې وړ وګرځي، او د هیوادوالو د بشري حقونو د تامین لپاره عملي ګامونه پورته شي.

## د معلوماتو راټولولو تګلاره

رواداري، د ۲۰۲۳ کال د جنوري میاشتې له لومړۍ نېټې څخه د جون میاشتې تر۳۰مې، د ۵۲ ښځو په ګډون له ۳۵۳ تنو د بشر حقونو فعالانو، قربانیانو او د هغوی له خپلوانو، عیني شاهدانو، مدافع وکیلانو، د عدلي او قضایي بنسټونو د مخکنیو او برحاله کارکوونکو، خوشې شویو بندیانو، سیمه ییزو خبریالانو، «د ګذر وکیلانو»، د روغتیایي مرکزونو مسئولینو او د ښوونیزو بنسټونو محصلینو سره په ۳۰ ولایتونو[1] کې مرکې ترسره کړې دي او د بشر حقونو د نقض پېښې یې مستندې کړې دي.




د بشر حقونو د نقض اړوند هغه معلومات او اطلاعات چې په دغه راپور کې مطرح کیږي، د یادو سرچینو سره د مرکو له لارې ترلاسه او د بشر حقونو د بین المللي اسنادو په چوکاټ کې تحلیل او ارزول شوي دي.

همدا راز، په دغه راپور کې د رواداري د مخکنیو راپورونو او د بشري حقونو د ځینو نورو بنسټونو له خوا د خپاره شوو راپورونه څخه ګټه اخستل شوې ده. سربېره پر دې، کتبي اسناد، فرمانونه، او رسمي لیکونه چې طالبانو د ۲۰۲۳ کال په لومړۍ نیمایي کې صادر کړي او رواداري ترلاسه کړي دي، د دغه راپور د معلوماتو نورې سرچینې دي.

په افغانستان کې د طالبانو له خوا د رامنځته شویو خنډونو او محدودیتونو له امله، د بشر حقونو د نقض د معلوماتو راټولول او مستندول، سخت او له ننګونې ډک کار و. د رواداری موندنې ښیي چې طالبانو د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې اطلاعاتو ته پر لاسرسي سخت محدودیتونه وضعه کړي دي. پر همدې بنسټ، هغه څه چې په دې راپور کې مطرح کیږي یواځې د بشر حقونو د نقض ځینې موارد دي، کوم چې رواداري توانېدلی د خپلو امکاناتو، ظرفیت او د لاسرسي وړ سرچینو ته په کتنې مستندې کړي.

د یادونې وړ ده چې د سرچینو او مرکه شویو کسانو د امنیت د خوندیتوب په خاطر رواداري په دغه راپور کې د یادو شویو کسانو د پېژندنې او د بشر حقونو د نقض د ځینو پېښو دقیقه نېټه او د پېښې د سیمې اړوند د جزئیاتو له ورکولو قصداً ډډه کړې ده.

[1] کابل، غزني، میدان وردګ، ننګرهار، هرات، بلخ، بامیان، بدخشان، پکتیا، پکتیکا، خوست، کنړ، کندز، تخار، سمنګان، سرپل، دایکندي، جوزجان، هلمند، ارزګان، فراه، غور، نمیروز، پنجشېر، پروان، بغلان، لغمان او نورستان، قندهار او زابل.

# ۱

## لومړۍ برخه

# د مــدني او سيـــاســي حقونـو نقض

د دغه راپور موندنې په عمومي توګه د مدني او سياسي حقونو د نقض د پېښو معلومات رانغاړي، چې د ۲۰۲۳ کال په لومړۍ نيمايي کې د افغانستان په بېلابېلو برخو کې پېښې شوې او د رواداري له خوا مستندې شوې دي. په دغه راپور کې په مشخص ډول د ژوند حق، د آزادۍ او شخصي امنيت حق، د انساني کرامت حق، سوله ييز لاريونونه او د ښځو د بشري حقونو وضعيت بېلابيل اړخونه ارزول شوی او بحث پرې شوی دي.


Photo (C) Kiana Hayeri NYT

## د ژوند د حق نقض

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو ۶میاشتو کې کم تر کمه ۵۱۶ تنه په ټول هیواد کې په بېلابېلو پېښو کې وژل شوي او ټپیان شوي دي، چې په دې کې ۳۵۵ تنه مړه او ۱۶۱ تنه ټپیان دي. په وژل شویو کې ۲۶۹ تنه نارینه، ۳۴ ماشومان او ۳۲ ښځې دي او د ۲۰ تنو هویت معلوم نه دی. په ټپیانو کې ۹۵ نارینه، ۲۲ ماشومان، ۴ ښځې او د ۴۰ تنو هویت معلوم نه دی. د تېر حکومت کارمندان، قومي مشران، د طالبانو مخالفین او نور ملکي وګړي د دې پېښو قربانیان دي.

د ۲۰۳۲ کال په لومړیو ۶میاشتو کې کم تر کمه

**۵۱۶**

تنه په ټول هیواد کې په بېلابېلو پېښو کې وژل شوي او ټپیان شوي دي

په ۳۵۵ تنه وژل شویو کې

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۶۹ نارینه | ۳۲ ښځینه | ۳۴ ماشومان | ۲۰ نامعلومه هویت |

۱۶۱ تنه ټپیان کې

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹۵ نارینه | ۲۲ ماشومان | ۴ ښځینه | ۴۰ نامعلومه هویت |

د ژوند حق د نقض پېښې، چې دلته ورباندې بحث کيږي، هدفي، مرموزې او غيرقانوني وژنې، ځانمرګي بريدونه او د ماينونو او چاوديدونکو توکو چاودنې رانغاړي.

## ۱. د ځانمرګو بريدونو له امله اوښتې مرګ ژوبله

د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږ میاشتو کې په کابل او بدخشان ولایتونو کې د ۳ ځانمرګو بريدونو په پایله کې کم تر کمه ۱۱۱ تنه ملکي هيوادوال وژل شوي او ټپيان شوي چې په دې کې ۴۱ تنه چې ۲۱ نارينه او ۲۰ تنه چې هويت يې نه دی مشخص شوی وژل شوي، او ۳۰ نارينه او ۴۰ تنه نور چې هويت يې نه دی مشخص ټپيان شوي دي.

د ۲۰۲۳ کال د جنوري پر ۱۱مه نېټه په کابل ښار کې د يو ځانمرګي بريد په پايله کې کم تر کمه ۲۰ ملکي وګړي وژل شوي او ۴۰ نور ټپيان شوي. همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۶ او ۸ نېټو، د بدخشان ولايت په مرکز کې کم تر کمه ۲۱ تنه وژل شوي او ۳۰ نور ټپيان شوي دي.

د ټولو دريوو بريدونو مسئوليت د داعش ډلې پر غاړه اخستی او طالبانو هم تائيد کړې چې په يادو ولايتونو کې ځانمرګي بريدونه د داعش کار و.



Photo (C) AP Photo Ebrahim Noroozi

## ۲. د ماینونو او له جګړې د پاتې شویو چاودیدونکو توکو له امله اوښتي ملکي مرګ ژوبله

د روادارۍ موندنې ښيي چې د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۶۳ تنه د ځای پر ځای شویو ماینونو، سرګلولو او نورو له جګړې پاتې شویو چاودیدونکو توکو د چاودنو په پایله کې مړه او ټپیان شوي، چې په دې کې ۳۱ تنه چې ۲۶ ماشومان، ۴ نارینه او یوه ښځه ده وژل شوي او د ۳۲ تنو په شمېر ټپیان شوي دي، چې ۲۰ ماشومان، ۱۰ نارینه او ۲ ښځې دي. د دې پېښو ډېری قربانیان لکه څنګه چې د راپور موندنې ښيي، ماشومان دي.

له جګړې د پاتې شویو چاودیدونکو توکو له امله اوښتي ملکي مرګ ژوبله




د سره صلیب نړیوالې کمېټې هم اعلان کړی چې د ۲۰۲۲ کال له جنورۍ میاشتې څخه د ۲۰۲۳ کال تر جون میاشتې پورې په هیواد کې ۶۴۰ ماشومان د ماینونو او پاتې شویو چاودیدونکو توکو د چاودنو په ۵۴۱ پېښو کې مړه او ټپیان شوي دي، چې دا شمېرې له جګړې څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو له امله د اوښتې ټولې مرګ ژوبلې ۶۰ سلنه جوړوي.[۲]

ماینونه او د مخکنیو جګړو پاتې شوي چاودیدونکي توکي تر ټولو مهمه ننګونه او په ځانګړې ډول د افغانستان په سویل او ختیځ کې د مرګ ژوبلې تر ټولو مهم عامل دی؛ لکه څنګه چې دا مهال په ۱۲۰۰ کیلومتر مربع سیمه کې ۴۱۵۸ خطرونه چې شاوخوا ۱۵۳۷ ځایونه تهدیدوي او د خلکو د تګ او راتګ خنډ ګرځیدلي دي.[۳]

ماینونه او ناچاودېدلي توکي معمولاً په ډېر تګ راتګ درلودونکو سیمو، لکه عمومي لارو، زیارتونو، کرنیزو ځمکو او حتا د خلکو په کورونو کې ځای پر ځای شوي، چې د ملکي خلکو د تلفاتو او په پراخ ډول د ژوند د حق د نقض سبب شوي. د ۲۰۲۳ کال د جون میاشتې پر ۸مه نېټه یو قرباني له روادارۍ سره په مرکه کې وویل: «د سړک غاړې په یو ځای پر ځای شوي ماین چې د طالبانو له خوا د کندهار ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې ایښودل شوی و، دواړه پښې مې له منځه لاړې».[٤] په یوه بله پېښه کې چې د ۲۰۲۳ کال د اپرېل میاشتې پر ۲مه نېټه د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په «تنګۍ دره» کې د هاوان د یوې مرمۍ د چاودلو له امله دوه ماشومان چې یو ورور او خور ؤ، وژل شوي. دې ماشومانو خپل کور ته نږدې له یو غره څخه ناچاودلې سرګلوله پیدا کړې وه.

**همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د اپرېل میاشتې پر ۲۹مه، د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په دشت توپ کلي کې ۵ ماشومان وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي. د کندهار ولایت یو اوسېدونکي روادارۍ ته**

۲ د سره صلیب نړیواله کمېټه، ماشومان د ناچاودو او پاتې شویو چاودیدونکو توکو اصلي قربانیان دي. ۸۱ جولای ۲۰۲۳ https://blogs.icrc.org/afghanistan/prs/2023/07/206/

۳ بي بي سي فارسي، ۴ اپریل ۲۰۲۳ https://www.bbc.com/persian/articles/c04vx0r25nyo

٤ سیمه ییزو سرچینو روادارۍ ته ویلي چې طالبانو د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره په جګړه کې د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالي ونیوله او د دې ولسوالۍ بېلابېلو برخو کې یې ماینونه وکرل..

**وویل: «د سرک د غاړې یو ماین د چاودنې له امله مې پښې پرې شوې او معلول شوم. اوس زما ژوند سل په سلو کې بدل شوی، ځکه د کار کولو توان نه لرم».**

## ۳. هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

د رواداري د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۳ کال د جنوري میاشتې له لومړۍ څخه د ۲۰۲۳ کال د جون تر ۳۰مې کم تر کمه ۳۴۲ تنه چې ۲۹۹ نارینه، ۳۳ ښځې او ۱۰ ماشومان دي، په هدفي، مرموز ډول او له محاکمې پرته د طالبانو او نامعلومو کسانو له خوا وژل شوي او ټپیان شوي دي. له دې څخه ۲۸۳ تنه وژل شوي او ۵۹ تنه نور ټپیان شوي دي.




موندنو ښودلې چې طالبان او نامعلوم اشخاص د کال په لومړیو میاشتو کې د هدفي او غیرقانوني وژنو مرتکب دي او د دې پېښو قربانیان عمدتاً د تېر حکومت کارکوونکي، د بشر حقونو فعالان، د طالبانو مخالفین او منتقدین او نور دي.

د یادونې وړ ده چې ننګونو او شته ستونزو او اطلاعاتو ته په لاسرسي کې د طالبانو له خوا رامنځته شویو خنډونو ته په پام سره، د هدفي او له محاکمې پرته وژنو ارقام کیدای شي په دې راپور کې د منعکس شویو ارقامو څخه زیات وي.

### الف - د تېر حکومت د کارکوونو هدفي وژنې

د هغو کسانو له منځه چې د ۲۰۲۳ کال په لومړۍ نیمایي کې په هدفي توګه او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپیان شوي، ۵۵ تنه یې د مخکني دولت ملکي او نظامي کارکوونکي دي چې په دې کې ۵۴ تنه وژل شوي او ۱ تن ټپي شوی چې ۴۵ تنه نظامیان او ۱۰ تنه نور د مخکني دولت د ملکي برخو کارکوونکي ؤ.





**۱۰**
تنه ملکي کارکوونکي د مخکني دولت

**۴۵**
تنه نظامیان د مخکني دولت

د دې څېړنې موندنې ښیي چې طالبانو د تېر کال په پرتله د تګلارو په بدلون سره، لا هم د مخکني حکومت له کارکوونکو څخه مرګوني بدل اخستلو ته دوام ورکړی دی. په تېر نږدې یونیم کال کې، د مخکني حکومت د کارکوونکو د وژنو ډېر راپورونه خپاره شول چې د بین المللي اندېښنو او اعلامیو یوه څپه یې له ځان سره لرل. د رواداري موندنې ښیي چې طالبانو د مخکني حکومت د کارکوونکو د غیر قانوني وژنو اړوند د اعلامیو او پراخ انعکاس تر اغیز لاندې اوس خپل د بدل اخستنې تګلاري او تاکتیکونه بدل کړي دي.

لکه څنګه چې داسې موارد هم شته چې طالبانو او په ځانګړې ډول د استخباراتو اداري یې د مخکني حکومت کارکوونکي ووژني او وروسته اعلان کوي چې دا کسان په داعش ډلې پورې اړوند ؤ، او یا یې ځانوژنه کړې. د بېلګې په توګه، **د ۲۰۲۳ کال په مارچ میاشت کې د طالبانو ځواکونو د مخکني ملي امنیت یو کارمند په هرات ښار کې وواژه او وروسته یې اعلان وکړ چې دوی د داعش ډلې یو غړی وژلی دی.** همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د اپرېل پر ۱۰مه نېټه د مخکني ملي امنیت ریاست یو کارمند په کابل کې د خپل کور مخې ته ووژل شو. په یوه بله ورته پېښه کې، د ولسي پاڅون کوونکو یو مخکنی قوماندان د بدخشان ولایت په یوه ولسوالۍ کې د نا معلومو کسانو له خوا و تښتول شو؛ خو جسد یې په بهارک ولسوالۍ کې پیدا شو. له رواداري سره په خبرو کې د دې سړي یو خپلوان ځرګنده کړه چې که څه هم طالبانو د یاد قوماندان په وژلو کې لاس لرل رد کړي خو هغوی شک نه لري چې د دې پېښې عاملین طالبان دي، ځکه هغه د جمهوریت د سقوط تر مهاله له طالبانو سره جنګېدلی و.

همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ پر ۲۶مه د مخکني ملي امنیت یو کارمند د ننګرهار ولایت په یوه ولسوالۍ کې په خپل کور کې د نامعلومو وسله والو له خوا ووژل شو. البته د قرباني کورنۍ په دې اړه د جزیاتو له ورکولو ډډه وکړه؛ خو څو سیمه ییزو سرچینو رواداري ته وویل چې دا نفر له مخکني حکومت سره د کار کولو له امله د طالبانو له خوا وژل شوی دی.

یو عیني شاهد رواداري ته ویلي: **«د ۲۰۲۳ کال د مارچ پر ۱۲مه نېټه د مزار شریف ښار په شپږمه ناحیه کې، نیمه شپه نا معلومو وسله والو د مخکنۍ اردو یو سرتېرې د کورنۍ د غړو او ماشومانو مخې ته په ډزو وواژه». دې عیني شاهد ویلي چې طالبانو تر دې وړاندې دوه ځله د یاد تن کور تلاشي کړی و.**

د فبروري پر ۱۸مه یو مخکنی ملي پولیس د غزني ولایت په یوه ولسوالۍ کې د نا معلومو کسانو له خوا ووژل شو. د قرباني د کورنۍ یو غړي معلومات ورکړي چې طالبان د دې پېښې عامل دي، ځکه څو ځله یې ورته ویلي ؤ چې: «ته باید ووژل شې، ځکه چې د جمهوریت د امنیتي او دفاعي ځواکونو غړی وې».

د راپور په دغه دوره کې، د رواداري موندنې ښیي چې طالبانو د تېر حکومت د کارکوونکو د کورنۍ غړي او خپلوان هم وژلي دي. لکه،


**د ۲۰۲۳ کال د مارچ میاشتې پر ۱۵مه نېټه په تخار ولایت کې، طالبانو د مخکنۍ اردو د یو سرتیري مېرمن له شکنجې وروسته ووژله. د قرباني ښځې مېړه رواداري ته ویلي چې هغه له دې پېښې مخکې افغانستان پرېښی و او طالبان د شپې ناوخته د وسلې د پلټلو په پلمه د هغه کور ته ننوتل او مېرمن يې له شکنجې او وهلو ټکولو وروسته د مرمیو په درې ډزو ووژله.**



Photo (C) Phillip Walter Wellman/Stars and Stripes

## ب - له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د ملکي خلکو وژنه

ترلاسه شوي شواهد ښيي چې طالبانو د ۲۰۲۳ کال په لومړيو شپږو میاشتو کې، کم تر کمه ۹ تنه ملکي هیوادوال په مخالفو ډلو کې د غړيتوب او همکارۍ په تور وژلي. د قربانیانو تور له ملي مقاومت جبهې او نورو مخالفو ډولو سره تړلتیا ښودل شوې. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۵مه طالبانو يو ځوان په تخار ولایت کې د ملي مقاومت جبهې د غړيتوب په تور ونيو او وروسته یې ووژه. د قرباني کورنۍ ويلي چې: «طالبانو ۱۳ ورځې مخکې هغه ونیو او له شکنجې وروسته يې ووژه او مړی يې مور ته وسپاره. هغه نوی له ایرانه افغانستان ته راستون شوی و او هیڅ کومې ډلې سره يې اړیکه نه درلوده».




**۹** تنه ملکي هیوادوال په مخالفو ډلو کې د غړيتوب او همکارۍ په تور وژلي

په یوه بله پېښه کې، **طالبانو د بلخ ولایت د چمتال ولسوالۍ یو اواوسېدونکی د شپې له خوا په یوه برید کې د کورنۍ له ٦ تنو غړو سره وواژه. د دې تن خپلوانو رواداري ته ویلي چې طالبان د شپې مهال د تلاشۍ په پلمه د یاد کس کور ته ننوتل او هغه يې له مولوي مهدي سره د اړیکو په تور وواژه. په دې برید کې د یاد کس د کورنۍ ٦ غړي هم ووژل شول.**

## ج - د نورو ملکي هیوادوالو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

له شته شمېرو سره سم، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې، کم تر کمه ۲۷۸ تنه ملکي وګړي د هیواد په بېلابېلو سیمو کې د نامعلومو افرادو له خوا په ډزو وژل شوي او ټپیان شوي. په دې کې د ۲۲۰ په شمېر هیوادوال چې ۱۸۲ نارینه، ۳۰ ښځې او ۸ ماشومان دي وژل شوي او د ۵۸ تنو په شمېر هیوادوال چې ۵۴ نارینه، ۲ ښځې او ۲ ماشومان دي، ټپیان شوي دي. قربانیان یې د مخکني حکومت د کارکوونکو د کورنۍ غړي او خپلوان، قومي مشران او د تېر حکومت سیمه‌ییز پلویان، ټولنیز او فرهنګي فعالان او سوداګر دي.




رواداري نه ده توانېدلې چې د یو شمېر دغو پېښو دقیقه انګېزه او علت مستند کړي. ځکه د قربانیانو د کورنۍ غړي او خپلوان هم په دې اړه نه پوهیږي، حتا د قربانیانو یو شمېر د کورنۍ غړي او قربانیان د امنیتي ستونزو او د طالبانو له خوا د ورکړل شویو ګواښونو له امله نظر ورکولو ته نه دي حاضر شوي.

د ملکي خلکو د وژنو ډېری برخه د نامعلومو کسانو له خوا ترسره شوي، چې طالبانو یې د پېژندلو او نیولو لپاره هیڅ اقدام نه دی کړی، او نه یې هم د دې افرادو د هویت په اړه راپور او معلومات وړاندې کړي دي. ترلاسه شوي شواهد ښیي چې طالبانو حتا د دې ډول پېښو اړوند اطلاعات پټ ساتلي او د قربانیانو کورنۍ یې تهدید کړې دي چې حقوق بشري بنسټونو او رسنیو ته د هر ډول معلوماتو ورکولو څخه ډډه وکړي. دا هغه چاره ده چې په دا ډول وژنو کې د طالبانو د لاس لرلو اړوند جدي پوښتنې پیدا کوي. سره له دې او د نامعلومو کسانو له خوا د ملکي هیوادوالو د مرموزو او هدفي وژنو شمېرو ته په پام سره، تر اوسه دغه افراد نه نیول شوي او نه تعقیب شوي دي، او همدا مساله د هیوادوالو په منځ کې د جدي وېرې او اندېښنې سبب شوې. هغوی پوښتنه کوي چې دغه نامعلوم افراد څوک دي او ولې نه نیول کیږي؟ بله پوښتنه د دا ډول قضیو اړوند د معلوماتو د پټولو هڅې او د قربانیانو د کورنیو تهدیدول دي. **لکه څنګه چې رواداري په کندهار ولایت کې د هدفي وژنو قضیې مستندې کړې، چې د قربانیانو ځینو کورنیو رسنیو ته د معلوماتو د نه ورکولو اړوند د طالبانو له خوا د اخطار او تهدید له ترلاسه کولو وروسته خپل د اوسېدو ځای پرېښی او نامعلوم ځای ته کوچیدلي دي.**

سربېره پر دې، داسې موارد هم شته چې یو شمېر ملکي وګړي د طالبانو د خپلمنځي رقابتونو او اختلافاتو له امله وژل شوي. د بېلګې په توګه په بامیان ولایت کې طالبان په دوو رقیبو او مخالفو برخو وېشل شوي[5] چې د ترلاسه شویو شواهدو او معلوماتو پر بنسټ، لومړۍ ډله د بلې ډلې چې ډېر واک یې په لاس کې دی د بدنامولو لپاره ملکي وګړي په غیر قانوني توګه نیسي، شکنجه کوي او وژني یې. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د فبروري پر ۱۷مه نېټه د ډېرو سکرو د یو کان درې تنه کارکوونکي د بامیان ولایت په سیغان ولسوالۍ کې وژل شوي. دا کسان لومړی تښتول شوي او وروسته یې جسدونه د «دندان شکن کوتل» په یوه دره کې پیدا شوي. رواداري ته ځو سرچینو ویلي چې د طالبانو د سیمه ییزو مسئولینو خپلمنځي رقابتونه د دې پېښې اصلي انګېزه ده.




## اجباري ورکیدنې

د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۱۱ تنه ملکي وګړي د طالبانو له خوا له نیول کېدو وروسته تري تم شوي دي، ترلاسه شویو معلوماتو ته په پام سره دا پیښې د «اجباري تري تم کولو» مصداق ګڼل کیدای شي. د افرادو اجباري تري تم کول د بشر حقونو د بین المللي اسنادو له مخې د دولت د مامورینو یا نورو اشخاصو او ډلو په وسیله د نیولو، بندي کولو یا تښتولو په بڼه ترسره کیږي او وروسته یې د نیول



**۱۱**
تنه ملکي وګړي د طالبانو له خوا له نیول کېدو وروسته تري تم شوي

۵ لومړۍ ډله د دې ولایت په والي پورې اړونده او پښتانه دي او دویمه ډله تاجیک دي چې د دې ولایت له امنیه قوماندان څخه امر اخلي.

کېدو له اعلان او د قربانیانو د برخلیک او پېټځای په اړه له معلوماتو ورکولو ډډه کیږي.[6] د بشر حقونو بین المللي اسناد اجباري تري تم کول د بشر حقونو تر ټولو سخت نقض ګڼلی او د بشر ضد جنایت د مصداق په توګه یې په رسمیت پېژندلی دی.[7]

قربانیان یې د تېر حکومت کارکوونکي او ملکي خلک دي، چې د طالبانو له خوا نیول شوي او بیا تري تم شوي دي. د قربانیانو له کورنیو، خپلوانو او نږدې کسانو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، طالبانو دغه کسان نیولي او د هغوی د برخلیک او د پېټځای اړوند له معلوماتو ورکولو څخه یې ډډه کړې. د بېلګې په توګه، **د ۲۰۲۳ کال د فبروري پر ۸مه طالبانو د هرات ولایت یو اوسېدونکی د یو مخکني نظامي د ضمانت په تور نیولی او تری تم دی. د دې کس کورنۍ څو میاشتې هڅه وکړه چې د برخلیک په اړه یې معلومات ترلاسه کړي چې بالاخره د رشوت په ورکولو د طالبانو له منځه یو تن د هغه ځینې اسناد لکه پاسپورټ او تذکره د هغه کورنۍ ته وسپارل او و ورته و یې ویل چې هغه وژل شوی دی او په نامعلوم ځای کې ښخ شوی دی. وروسته له دې چې د قرباني کورنۍ له دې پېښې خبریږي، د طالبانو له خوا تهدیدیږي چې باید دا موضوع له بل چا سره شریکه نه کړي، هغوی حتا د قرباني د کورنۍ یو غړی نیسي او د څو ورځو لپاره یې بندي کوي.**

د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ پر ۲۳مه نېټه د طالبانو یوې ډلې د شپې نهه بجې د بهسود ولسوالۍ د اوسېدونکي یو تن پر کور برید وکړ او یو کس یې ځان سره نا معلوم ځای ته یووړ. د یاد کس کورنۍ څو ځله د طالبانو دولتي ادارو ته مراجعه وکړه خو د نیول شوي تن د برخلیک په اړه یې هڅ ډول معلومات ترلاسه نه کړه.

د ۲۰۲۳ کال د اپریل میاشتې په لومړیو کې په خوست ولایت کې د مخکني پوځ یو تن افسر د نامعلومو وسله والو کسانو له خوا ونیول شو چې له هغې وخته تر اوسه یې د برخلیک په اړه هیڅ خبر نشته. قرباني ته یو نږدې کس رواداري ته ویلي چې یاد کس د طالبانو د استخباراتو له خوا نیول شوی او اوس په زندان کې دی؛ خو د دې مرکه شوي د وینا مطابق طالبانو د یاد کس له نیولو انکار کړی دی.

همدا راز، د ۲۰۲۳ کال په مارچ میاشت کې د بامیان ولایت یو تن اوسېدونکی چې د مخکني ملي امنیت د عمومي ریاست کارمند ؤ د طالبانو له خوا د وسلې درلودلو په تور ونیول شو. له هغې وخته تر اوسه یې د برخلیک په اړه هیڅ معلومات په شتون نلري. د قرباني پلار رواداري ته ویلي چې تر اوسه یې د طالبانو په عدلي او قضایي بنسټونو کې پینځه سوه زره افغانۍ لګولې دي او څو ځلې د طالبانو مسئولینو ته ورغلی، خو هیڅ ډول معلومات یې نه دي ترلاسه کړي. **د ۲۰۲۳ کال د فبروري پر ۲۸ مه نېټه، د طالبانو د استخباراتو ادارې په تخار ولایت کې یو تن په فیسبوک کې پر طالبانو د یو انتقادي نظر له امله ونیو، چې له هغې وخته تر اوسه یې د برخلیک په اړه هیڅ خبر نشته.**

هغو پراخو محدودیتونو او خنډونو ته په کتو چې طالبانو اطلاعاتو ته د لاسرسي پر وړاندې رامنځته کړي دي، د معلوماتو راټولونه او د اجباري تري تم کولو د قضیو مستندول خورا سخت کار دی؛ ځکه د قربانیانو یو شمېر کورنۍ ګواښل شوې دي چې له نورو بنسټونو او افرادو سره هیڅ ډول اطلاعات شریک نه کړي. پر همدې بنسټ، رواداري ټینګار کوي چې په افغانستان کې د اجباري تري تم کولو د پېښو شمېر کیدلای شي په دې راپور کې له مطرح شویو شمېرو څخه ډېر زیات وي.

۶ ۲مه ماده، د اجباري تري تم کېدو پر وړاندې د ټولو اشخاصو د ملاتړ کنوانسیون، د ۱۰۲۰ کال تصویب شوی، د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته. ۷مه ماده، (۲)، (i) د بین المللي جزايي محکمې اساسنامه، د ۱۹۹۸ کال تصویب شوې، د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه.

۷ . ۷مه ماده، (۱)، (i) د بین المللي جزايي محکمې اساسنامه، د ۱۹۹۸ کال تصویب شوې، د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه.

## خپلسرې او غیر قانوني نیونې

د دې راپور موندنو ښیې چې د ۲۰۲۳ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د ۲۳ ښځو په ګډون لږ تر لږه ۲۲۲ تنه په ۱۶ ولایتونو[8] کې په خپلسرې او غیر قانوني توګه د طالبانو له خوا نیول شوي دي. نیول شوي کسان د مخکني حکومت ملکي او نظامي کارکوونکي، «ولسي پاڅونونو» ته منسوب کسان، د بشر حقونو فعالان، خبریالان، قومي مشران او د طالبانو مخالفین او منتقدین دي.



**۲۳** ښځو په خپلسرې او غیر قانوني توګه د طالبانو له خوا نیول شوي

په داسې حال کې چې د بشر حقونو بین المللي اسنادو د آزادۍ او شخصي امنیت حق تضمین کړی او د افرادو د آزادۍ د په خپلسرې او غیر قانوني ډول د سلبولو پر ممنوعیت یې تاکید کړی،[9] خو طالبانو له قانوني موازینو او د صالحو مراجعو له جواز پرته په خپلسرې او غیر قانوني توګه د تېر حکومت ډېر کارکوونکي او نور هېوادوال نیولي دي.

د رواداري موندنې ښیې چې غچ اخیستنه، د بشر حقونو د فعالانو، منتقدینو او مخالفینو ځپل، د دغه کړنو د مخه نیوونکو حقوقي میکانیزمونو نشتوالی، د بشر حقونو موازینو او د عادلانه محاکمې اصولو ته د طالبانو د التزام نشتوالی، د طالبانو تر کنټرول لاندې ادارو په لوړو او ټیټو کچو کې پراخ فساد او بې نظمي د خپلسرو او غیر قانوني نیونو تر ټولو مهم لاملونه دي.

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د استخباراتو پر اداري سربېره، پولیس او محکمې چې د نیونو د تر ټولو لومړنیو اصولو او تشریفاتو له رعایتولو پرته، خلک نیسي او بندیانوي، نور غیر مسئولې اداري او حتی د طالبانو عادي سرتیري هم د خلکو په نیولو او بندیانولو کې نقش لري. د بېلګې په توګه په غور ولایت کې، د پولیسو او د استخباراتو د اداري منسوبینو سربېره، د امر بالمعروف اداري د کارکوونکو له خوا، او تر دې چې شاروالي هم خلک نیسي او بندیانوي یې. په کندهار ولایت کې یو شمېر قربانیانو رواداري ته ویلي چې هغوی د ترافیک ریاست، احصائیې ریاست، د عامې روغتیا ریاست او د میرویس حوزوي روغتون له خوا خلک نیول شوي او زنداني شوي دي. طالبان خلک د هېواد په بېلابېلو برخو کې په شخصي زندانونو کې ساتي او په غیر قانوني توګه یې توقیف او شکنجه کوي.[10]

### ۱. د تېر حکومت د د کارکوونکو غیر قانوني نیونې

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، له ټولو هغو وګړو څخه چې د ۲۰۲۳ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د طالبانو له خوا په خپلسرې او غیر قانوني ډول نیول شوي، کم تر کمه ۷۳ تنه یې د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنۍ غړي جوړوي، چې په دې کې د ۴۷ په شمېر نظامیان، ۵ تنه د تېر حکومت د ملکي برخو کارکوونکي او ۲۱ تنه نور د هغوی خپلوان او نږدې کسان دي.

لکه څرنګه چې مخکې هم ور څخه یادونه وشوه، طالبانو اطلاعاتو ته پر لاسرسي سخت محدودیتونه وضعه کړي او په ځینو مواردو کې قربانیان تر خوشې کولو وروسته، حقوق بشري بنسټونو او رسنیو ته د هر ډول اطلاعاتو ورکولو څخه منعه کړل شوي؛ پر همدې بنسټ، ممکن د تېر حکومت د کارکوونکو د غیر قانوني نیونو رښتینی شمېر به په دې راپور کې له راغلو شمېرو څخه خورا ډېر وي.

له بل پلوه، د طالبانو د حاکمیت نږدې په دوو کلونو کې او د امنیتي ستونزو او تهدیدونو په دلیل، زرګونه هغه کسان چې د تېر

[8] کابل، پنجشیر، پروان، بامیان، بغلان، بدخشان، تخار، دایکندی، غزنی، غور، کندوز، فاریاب، جوزجان، سرپل، ننګرهار او خوست.

[9] د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۹مه ماده. د ملګرو ملتونو سازمان، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۱ بند، ۹مه ماده.


[10] رواداري، د طالبانو په عدلي او قضایي نظام کې عدالت ته د لاسرسي د وضعیت څېړنیز راپور، جون ۲۰۲۳ https://rawadari.org/040620231612.htm/

حکومت په نظامي او ملکي برخو کې یې کار کاوه له هیواده تښتیدلي دي. هغه کسان چې په هر دلیل نه دي توانېدلي وتښتي او یا یې افغانستان کې پاتې کېدو ته لومړیتوب ورکړی، دا مهال د بېلابېلو زورونو، نیونو، شکنجې او حتا د وژنې په خطر کې ژوند کوي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د اپرېل پر ۴مه طالبانو د تېر حکومت د ملي امنیت یو کارکوونکی په تخار ولایت کې ونیو.

لکه مخکې چې یادونه وشوه، طالبانو حتی د تېرو نظامیانو خپلوان او نږدې کسان بندیان کړي. مثلاً، **د ۲۰۲۳ کال د اپرېل پر ۱۴مه طالبانو د پنجشیر ولایت اوسېدونکی یو ۱۷ کلن ماشوم په دې دلیل ونیو چې طالبانو ته یې د خپل پلار د پټېدو ځای نه و ښودلی، په یو بل مورد کې، طالبانو د ۲۰۲۳ کال د فبروري پر ۲مه یو ملکي وګړی له دې امله نیولی چې زوی یې په تېر حکومت کې په امنیتي ځواکونو کې دنده ترسره کړې. د دې کس زوی د جمهوریت له سقوط سره یو ګاونډي هیواد ته وتښتېد.**

## ۲. د مدني فعالانو، د بشر حقونو مدافعانو او خبریالانو غیر قانوني نیونې

د رواداري موندنې ښیي چې طالبانو د دې کال په لومړیو ۶ میاشتو کې کم تر کمه ۴۷ تنه د بشر حقونو مدافعان، مدني فعالان او خبریالان د اعتراض، انتقاد او د «اسلامي امارت» پر ضد د تبلیغاتو په تور په خپلسري او غیرقانوني توګه نیولي دي. د بېلګې په توګه، د فبروري پر ۱۱مه طالبانو په تخار ولایت کې یوه معترضه ښځه له خپل ورور سره یوځای ونیوله. دا ښځه د ښځو پر وړاندې د طالبانو د توپیري سیاستونو او پروګرامونو باندې د اعتراض له امله نیول شوې وه. همدا راز، **د ۲۰۲۳ کال د مارچ پر ۸مه د ښځو د حقونو ځینې فعالان د غور ولایت د ودانۍ مخې ته د تعلیم له حق څخه د ښځو د قصدي محرومولو په اعتراض کې راټول شول. طالبانو په دوی کې یوه ښځه چې د اعتراضي غونډې په راټولولو کې یې نقش درلود، له خپل پلار سره یوځای ونیوله او بیا یې په ضمانت خوشې کړه. دا ښځه په دې شرط چې له رسنیو سره به خبرې نه کوي او په اعتراضي پروګرامونو کې به ګډون نه کوي، له زندانه خوشې شوه.**



**۴۷** تنه د بشر حقونو مدافعان، مدني فعالان او خبریالان په خپلسري او غیرقانوني توګه نیولي دي

**د ۲۰۲۳ کال د مې پر ۸مه نېټه په خوست ولایت کې د طالبانو د امر بالمعروف ریاست، یو خبریال او د سیمه ییزو رسنیو درې تنه مسؤلین یې ونیول. دا کسان دوه ورځې وروسته د ضمانت په ورکولو د طالبانو له بنده خوشې شول.** همدا راز، په فاریاب ولایت کې یو تن سیمه ییز خبریال چې په آزاده بڼه یې له ځینو رسنیو سره همکاري کوله، د طالبانو له خوا ونیول شو. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، دا خبریال له بهرنیو رسنیو سره د همکارۍ په تور د طالبانو د استخباراتو د ځواکونو له خوا ونیول شو او یوه ورځ وروسته بېرته خوشې شو.

یاد موارد ښیي چې طالبان هیڅ ډول اعتراض او انتقاد نه مني او نه یې زغم لري. داسې قضیې هم شته چې حتا د ټولنیزو رسنیو کاروونکي پر طالبانو د انتقاد له امله نیول شوي دي. د بېلګې په توګه، په فاریاب ولایت کې یو فرهنګي فعال وروسته له هغې ونیول شو چې د طالبانو د حکومتولۍ پر طریقه یې نیوکه کړې وه. هغه دوه ورځې د طالبانو په زندان کې و. په یو بل ورته مورد کې، د ۲۰۲۳ کال د مې پر لومړۍ نېټه د دایکندي ولایت د ناوه میش ولسوالۍ یو اوسېدونکی په فیسبوک کې د طالبانو د اسلامي امارت پر ضد د تبلیغاتو په تور نیول شوی او شکنجه شوی.


Photo (C) Bulent Kilic AFP via Getty Images

## ۳. د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور په خپلسري ډول د خلکو نیول

شته شمېرې ښيي چې طالبانو د ۲۰۲۳ کال په لومړۍ نیمايي کې، کم تر کمه ۵۳ تنه د «ملي مقاومت جبهې» او نورو بېلابېلو ډلو سره د غړیتوب په تور په غیر قانوني توګه نیولي او بندیان کړي دي. لکه څنګه چې **د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ پر ۴مه طالبانو ۱۵ نارینه چې د پنجشیر ولایت د عنابه ولسوالۍ د «آبدره» کلي اوسیدونکي دي له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور نیولي او نامعلوم ځای ته يې لېږدولي دي. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ په دې کسانو کې مدني فعالان، محصلین او د پوهنتون استادان، موټر چلوونکي او بزګران شامل دي. رواداري نه ده توانېدلې چې د طالبانو له بند څخه د دې خلکو د خوشې کېدو یا نه خوشې کېدو په اړه کره معلومات ترلاسه کړي.**

د ۲۰۲۳ کال د اپرېل پر ۲۹ مه نېټه، یو بل تن په کابل ښار کې له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور ونیول شو، د جمهوریت له سقوط وروسته يې په کابل کې ژوند کاوه او له هیڅ سیاسي ډلې سره تړلی نه و. په یوه بله پېښه کې، طالبانو په غزني ولایت کې لس تنه ځوانان د «پکول خولۍ» د پر سر کولو، په موبایل کې د «احمدشاه مسعود» د عکس درلودلو او له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور نیول شوي او له څو ورځو وروسته خوشې شوي دي. دغه کسان یو شمېر يې پس له درې ورځو او نور يې له شل ورځو بند وروسته خوشې شوي دي.

## ٤. د خپلسرو او غیر قانوني نیونو نور موارد

د دې راپور موندنې ښيي، هغه ملکي افراد چې د دې راپور په دوره کې په غیر قانوني او خپلسري ډول د طالبانو له خوا نیول شوي او زنداني شوي، ۴۹ تنه يې هغه کسان دي چې په بېلابېلو تورونو بندیان شوي، لکه د وسلې لېږدول، د امر بالمعروف اداري له مقرراتو سرغړونه کول، لکه د ږیرې او د سر د ویښتو جوړول، د موسیقۍ اورېدل، بې حجابي او د شرعي محرم نه درلودل. دا کسان ډېری يې د امربالمعروف اداري د کارمندانو له خوا نیول شوي دي.

## د انساني کرامت د حق نقض

د انساني کرامت حق له ذاتي نه سلبیدونکو حقونو څخه دی چې له هیڅ قید او شرط پرته د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې، لکه د بشر حقونو نړیواله اعلامیه کې اعلان شوی او په رسمیت پېژندل شوی.[11] په دغه اسنادو کې د درج شویو مقرراتو پر بنسټ هیڅوک تر هیڅ شرایطو لاندې باید شکنجه نشي، و نه زورول شي او له ظالمانه او غیر انساني مجازاتو سره مخ نه شي.[12] سره له دې، ترلاسه شوي شواهد او مدارک ښیي چې طالبانو په پراخ ډول له زندانیانو سره ظالمانه او غیر انساني چلند کړی دی او ډېر کسان یې د عادلانه محاکمې اصولو ته له پاملرنې پرته په بې رحمانه ډول مجازات کړي دي.

### ۱. زندانیانو سره ناوړه چلند او ربړول (شکنجه)

دا چې رواداري زندانونو او د آزادۍ د سلب ځایونو ته لاسرسی نه لري او له بل پلوه طالبانو اطلاعاتو ته په لاسرسي کې سخت محدودیتونه وضعه کړي دي؛ نو نشو کولای د شکنجې او بد چلند د یو شمېر پېښو مشخص او دقیق شمېر وړاندې کړو؛ **خو د رواداري څارونکو د روان کال په لومړۍ نیمایي کې ډېر شمېر مدافع وکیلانو او د شکنجې قربانیانو سره مرکې ترسره کړې دي، چې ښیي نږدې ټول نیول شوي کسان کم تر کمه یو ځل د طالبانو له خوا شکنجه شوي او ناوړه چلند ورسره شوی دي.**

دا مهال هیڅ حقوقي میکانیزم نشته چې د طالبانو د شکنجې او ناوړه چلند پر وړاندې د هیوادوالو ملاتړ وکړي. په همدې دلیل، دا مهال د شکنجې عاملان او مرتکبین له ځواب ورکولو او حقوقي تعقیب څخه ډېر د مصئونیت احساس کوي. د رواداري موندنې ښیي چې د طالبانو حکومت شکنجه له متهمینو څخه د اقرار او اعتراف اخستلو د وسیلې په توګه کاروي.

وهل ټکول، په سخته ګرمۍ کې ودرول، په رسۍ زندۍ کول، له حده ډېرې اوبه ورکول او د تناسلي آلې تړل، د قرباني په تناسلي آلې پورې د درنو څیزونو تړل او بیا یې تګ ته مجبورول، د ساه بندلو لپاره سر ته پلاستیک ور اغوستل، بې خوبه کول، د ډېرو ترخو خوړو ورکول، د ټوپک په ډز وېرول، د حیواناتو په غوجلو کې د بندیانو ساتل، په بدبویه ځای کې ساتل، ځړول، د برقي شارټ ورکول او د ویښتو ویستل د طالبانو په بندیخانو کې معمولي شکنجې دي.[13]

**د دایکندي ولایت د ناوه مېش ولسوالۍ یو اوسېدونکي د طالبانو له خوا د شکنجه کېدو تجربه داسې بیان کړه: «طالبانو مونږ په تورتم کنده کې اچولي ؤ، نیمه شپه به درې کسان راتلل په خوله یې راته کمپله اچوله، یو به یې پر کمپلې کېناست او دوه کسان به په نوبت په شنو لښتو وهلو او تر هغې به یې شکنجه کولو چې بې هوښه به شوو. هره شپه به یې همدا شکنجه تکراروله.» همدا رنګه، د کندهار ولایت یو اوسېدونکی چې د سلمانۍ شغل لري رواداري ته ویلي چې: د ۲۰۲۳ کال د اپرېل پر ۴مه نېټه د امر به معروف آمر زما دوکان ته راغی او له اخطار او تهدید وروسته یې زه او زما درې تنه همکاران د ږیرې د**

۱۱ . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړواله اعلامیه، په ۸۷۹۱ کال تصویب شوی، مقدمه او لومړۍ ماده.

۱۲ . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۶۶۹۱ کال تصویب شوی، ۷مه ماده. د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د شکنجې او ظالمانه او غیر انساني چلندونو د مخنیوي کنوانسیون، د ۱۹۸٤ کال تصویب شوی، لومړۍ ماده.

۱۳ رواداري، د طالبانو په عدلي او قضایي نظام کې عدالت ته د لاسرسي د وضعیت څېړنیز رپوټ، ۲۰۲۳ جون.
https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/06/RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf

**اصلاح او وېښتو کمولو په تور د پولیسو حوزې ته یوړو او هلته یې درې ورځې په یو بد بویه کانتینر کې بندیان کړو. په دې موده کې یې موږ ته مناسبه ډوډۍ او اوبه نه راکولې او شکنجه کولو یې.»**

دا چې طالبانو قربانیان او د هغوی کورنۍ تهدید کړي دي چې حقوق بشري بنسټونو او رسنیو سره له مرکې او معلوماتو ورکولو ډډه وکړي، هغوی وېره لري چې د طالبانو په بند کې خپله تجربه بیان کړي.

- **د بندیانو وژل**

د رواداري موندنې ښيي چې یو شمېر نیول شوي کسان د طالبانو د سختو شکنجو له امله په زندانونو کې وژل شوي دي. د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږ میاشتو کې رواداري بنسټ توانېدلی چې د شکنجې او ربړونې کم تر کمه ۱۰ پېښې مستندې کړي، چې په زندانونو کې په قتل تمامې شوې دي. قربانیان ملکي وګړي دي، چې په بېلابېلو تورونو نیول شوي، شکنجه شوي او وژل شوي دي.

**د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د می پر ٦مه طالبانو یو قومي مشر د بغلان ولایت په نهرین ولسوالۍ کې ونیو. د دې کس یو بل خپلوان رواداري ته وویل: «موږ څو ځله هڅه وکړه هغه د طالبانو له بنده آزاد کړو، خو څو ورځې وروسته یې خبر راکړ چې د طالبانو تر شکنجې لاندې وژل شوی.»** د ۲۰۲۳ د مارچ پر ۲۳مه د بغلان ولایت په تاله او برفک ولسوالۍ کې د ښوونځي یو زده کوونکی د طالبانو له خوا و نیول شو. د هغه خپلوان ډېر ځله د هغه لیدو ته ورغلي وه؛ خو طالبانو د لیدو اجازه ور نکړه او څو ورځې وروسته یې مړی په پلخمري ښار کې وغورځاوه.

### ۲. ظالمانه او غیر انساني مجازات

د رواداري موندنې ښيي چې د طالبانو محکمې د روان کال په لومړیو ۶ میاشتو کې کم تر کمه ۹۹ تنه ۳۵ نارینه او ۱۶ ښځې په ۸ ولایتونو کې په عام محضر کې په دُرو ووهلې او هم یې په بامیان ولایت کې د دوه نورو کسانو د سنګسار حکمونه صادر کړي دي. دا شمېرې یوازې هغه پېښې رانغاړي چې قربانیان په ښکاره په عام محضر کې په دُرو وهل شوي دي. په داسې حال کې چې د دا ډول مجازاتو د تطبیق ډېر موارد شته، په ځانګړي ډول تعزیري جرایم چې طالبان یې نه ښکاره کوي.[14]

د دې راپور موندنې ښيي چې طالبان د حدودو په جرایمو تورن کسان پرته له تحقیق او د جرم د اثبات له دلایلو، له نیول کیدو سره سم په دُرو وهي. **لکه د ۲۰۲۳ کال د جنوري پر ٦مه نېټه طالبانو یوه نجلۍ او هلک د نامشروع جنسي اړیکې په تور د بدخشان ولایت په یوه ولسوالۍ کې په عام محضر کې ۳۹ دُرې ووهل. دا کسان له نیول کېدو وروسته پرته له دې چې د خپلې قانوني دفاع حق امکان ولري، مجازات شول.** په بله ورته پېښه کې د ۲۰۲۳ کال د فبرورۍ پر ۸مه طالبانو د دایکندي ولایت په یوه ولسوالۍ کې دوه نجونې او یو هلک د نامشروع اړیکې په درلودلو په ترتیب ۲۰، ۲۵، او ۳۹ دُرې ووهل. همدا رنګه، د ۲۰۲۳ کال د می ۶مه، د طالبانو محکمې یوه ښځه او سړی په بامیان ولایت کې د نامشروع اړیکې په تور په سنګسار محکوم کړل. دا حکم د طالبانو د تمیز محکمې څخه تائید شوی او د تطبیق لپاره د بامیانو مرافعه محکمې ته لېږل شوی دی.

۱۴ طالبان د حدودو په جرایمو کې د دُرو او نورو بدني مجازاتو بېنې ښکاره تطبیقوي او اعلانوي یې؛ خو په تعزیري جرایمو کې هغه معمولاً غیر علني اجرا کوي.

په داسې شرایطو کې چې طالبانو ټول مخکني جزایي قوانین لغوه کړي او محاکم يې د دين د سختو فقهي برداشتونو پر بنسټ او په ځينو مواردو کې د خپل رهبر د فرمانونو پر بنسټ، جزايي قضيې حل و فصل کوي. له بل پلوه، د طالبانو مطلق اکثریت قاضیان غیر مسلکي او د ديني مدرسو فارغان دي چې له عصري قوانينو او د عادلانه محاکمو څارونکو اصولو سره کمه بلدتيا لري.[15] د دا ډول مجازاتو پلي کول کولای شي د انسانی کرامت ښکاره نقض او د بې رحمانه سزاګانو مصداق وګڼل شي.

## د سوله ييزو لاريونونو ځپل

د ۲۰۲۳ کال په لومړيو ۶ مياشتو کې د دغه راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۲ د لومړيو شپږ مياشتو په پرتله کم لاريونونه ترسره شوي دي. ډېرى دغه لاريونونه او پروګرامونه چې د طالبانو د توپيرې سياستونو او په ځانګړې ډول پر ښځو د محدوديتونو د سختېدو په اړه په سرپټو ځايونو کې جوړ شوي دي.

د اعتراضي راټولېدونو او لاريونونو د کمېدو تر ټولو مهم علت د طالبانو له خوا د وېرې او ډار د فضا رامنځته کول دي. ځکه په تېرو نږدې دوو کلونو کې طالبانو په تدريج سره ښځې له بېلابېلو ټولنيزو، سياسي او اقتصادي برخو څخه حذف کړې، د ښځو فعالانو له خوا د هيواد په بېلابېلو برخو کې ډېر شمېر لاريونونه ترسره شول، خو طالبانو په پوره تاوتريخوالي سره دغه لاريونونه او عدالت غوښتونکي پروګرامونه وځپل. هغوى لاريون کوونکي ونيول، شکنجه يې کړل او حتا پر يو شمېر معترضو ښځو يې جنسي تيري وکړل او يو شمېر يې ووژلي.[16] په همدې دليل لسګونه ښځې او نارينه چې په دې عدالت غوښتونکو هڅو کې يې ګډون درلود، افغانستان يې پرېښود او نږدې او ليرې هيوادونو ته يې پناه يوړه. له همدې امله، اوس ډېر کم څوک دا جرات کوي چې د طالبانو پر تبعيضي سياستونو نيوکه وکړي او مخالفت وښيي.

د مدني مبارزو او سوله ييزو اعتراضي لاريونونو له لارې د هيوادوالو د بشري حقونو تعقيب او بيانول دا مهال سخته څه چې په ناممکنې چارې بدل شوي، ځکه طالبانو ښودلې چې کولای شي له هرې له تاوتريخوالي ډکې ممکنې وسيلې او طريقې څخه په استفاده او د خپل چلند له حقوقي عواقبو څخه له وېرې پرته، اعتراضي او حق غوښتونکو غږونه وځپي.




15 رواداري، د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې عدالت ته د لاسرسي د وضعيت څېړنيز رپوټ، جون ۲۰۲۳.
https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/06/RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf

16 . رواداري، پر شاه تګ او ځپل، ډسامبر ۲۰۲۲. https://rawadari.org/10122022251.htm/



# ۲

# د ښځو حقوق بشري وضعیت

پر افغانستان د طالبانو له دوهم ځل تسلط څخه تر اوسه له ټولنیزو اقتصادي، سیاسي او کلتوري بېلابېلو برخو څخه د ښځو د حذفولو لپاره سازمان شوي او هدفي اقدامات ترسره شوي دي. طالبانو په دې موده کې، د بشر حقوقو د بین المللي اسنادو[۱۷] د درناوي په برخه کې خپلو قانوني ژمنو ته له هر ډول پاملرنې پرته افغانې ښځې او نجونې له خپلو تر ټولو بنسټیزو حقوقو او آزادیو څخه، لکه د زده کړې حق، د کار حق، په عمومي چارو کې ګډون او د تګ راتګ حق او عدالت ته د لاسرسي له حقونو څخه محرومې کړې دي.

۱۷ افغانستان له ۹ الزامي بین المللي سندونو سره تړلی دی او طالبان د حاکمې ډلې په توګه چې سیاسي قدرت یې په واک کې دی، په دې اسنادو کې درج شویو تعهداتو پر رعایت مکلف دي.

Photo (C) Image Wakil Kohsar AFP

© Wakil Kohsar/AFP

په دې موده کې د افغانستان د ښځو د حقونو او انساني کرامت درناوي ته د طالبانو اړيستلو لپاره بين المللي هڅو نه يواځې هيڅ پايله نه درلوده بلکې برعکس ښځې د هرې ورځې په تېرېدو سره له د لا ډېر تبعيض او لا سختو محدوديتونو سره مخامخې شوې دي. لکه څنګه چې «ښځو او نجونو سره د تبعيض د مخنيوي لپاره د ملګرو ملتونو کاري ډله» او د افغانستان لپاره د بشر حقونو ځانګړي راپور ورکوونکي د يو راپور په خپرولو سره ويلي چې طالبانو واک ته له رسېدو څخه راپه دېخوا ښځو سره سيستماتيک تبعيض کړی او ځپلې يې دي، او دا مهال طالبان په تر ټولو افراطي بڼو حکومت کوي چې ښځې ځپي. [18]

## ۱. د ښځو د زده کړې د حق نقض

د تعليم حق د خلکو ترټولو مهم حق دی چې د بشر حقونو په بين المللي اسنادو کې يې ټولو تحصيلي او تعليمي فرصتونو ته د افرادو پر يو ډول لاسرسي تاکيد کړی. [19] له همدې امله ، د جنسيت پر بنسټ يا په هر بل دليل د زده کړو له حق څخه په برخه‌منېدو کې هر ډول تبعيض او توپير له يادو مقرراتو څخه سرغړونه شمېرل کيږي او د بشر حقونو نقض ګڼل کيږي.

سره له دې، طالبانو قدرت ته تر راستنېدو وروسته، په تدريجي، سيستماتيک او سازمان شوي ډول د افغانستان ښځې او نجونې له ښوونځيو، پوهنتونونو او نورو ښوونيزو مرکزونو ته له تلو منعه کړې دي، چې په وروستي مورد کې، د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ پر ۲۸مه نېټه د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت د رسمي ليک په صادرولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې ښځې د کانکور له ازموينې منعه کړې دي. په دې ليک کې په ټول هيواد کې له فعالو پوهنتونونو غوښتنه شوې چې ښځو ته تر بلې اطلاع پورې په امتحان کې د ګډون اجازه ور نکړل شي. په دې سره، دا مهال يواځې له شپږم ټولګۍ ټيټې نجونې زده کوونکې او د روغتيايي مرکزونو محصلين کولی شي، د حجاب د بې قيد و شرطه رعايت او د امر بالمعروف د اداري د سختو مقرراتو په رعايت سره ښوونځيو او روغتيايي ښوونيز مرکزونو ته لاړې شي.



د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت

معينيت امور محصلان
رياست امور محصلان خصوصی
آمريت امور محصلان

امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصيلات عالی

شماره: ۳۵۱۹
تاريخ: ۱۴۴۴/۷/۶

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

**به عموم پوهنتون ها و موسسات تحصيلی خصوصی!**

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

**موضوع:** تاريخ برگزاری امتحان کانکور سمستر بهاری سال ۱۴۰۲.

به اساس فيصله شورای رهبری مورخ ۱۴۴۴/۷/۳ تاريخ امتحان کانکور بهاری سال ۱۴۰۲ ذيلاً تعين گرديده است:

**الف: پوهنتون ها و موسسات تحصيلی خصوصی گرم سير:**

۱. کانکور عمومی(از ۸ دلو الی ۲۱ دلو)؛
۲. کانکور متفرقه( از۲۲ دلو الی ۵ حوت)؛

**ب: پوهنتون ها و موسسات تحصيلی خصوصی سرد سير:**

۱. کانکور عمومی(از ٦ حوت الی ۱۹ حوت)؛
۲. کانکور متفرقه(۲۰ حوت الی ۴ حمل).

نهاد های محترم تحصيلی مکلف اند پنج روز قبل از تاريخ برگزاری امتحان کانکور مکتوب خود را از رياست محصلان خصوصی دريافت و در مرکز به اداره محترم ملی امتحانات و در ولايات به پوهنتون های دولتی ولايت مربوطه جهت تعيين هيئات ناظر امتحان تسليم نمايند.

**قابل ذکر است** که ثبت نام محصلين طبقه اناث الی اطلاع ثانی و اخذ امتحان طبقه ذکور خلاف احکام مقرره های آموزش دوره ليسانس و تحصيلات عالی فوق ليسانس(ماستری و دوکتورا) مجاز نمی باشد. در صورت برخورد با اين موضوع با متخلف برخورد قانونی صورت می گيرد.

**مراتب تحريری فوق جهت اجراآت اصولی بعدی اخبار است.**

**با احترام**
**انجنير محمد سليم "افغان"**
**رئيس امور محصلان خصوصی**

**کاپی ها:**
✓ اداره محترم ملی امتحانات
✓ رياست محترم نظارت و ارزيابی
✓ رياست محترم تفتيش داخلی

آدرس: کارته چهار، ناحيه سوم، کابل- افغانستان website: www.mohe.gov.af

---

۱۸ د ملګرو ملتونو سازمان، د بشر حقونو شورا، د بشر حقونو د وضعيت په اړه د ځانګړي رپوټر رپوټ او د کاري ډلې رپوټ ښځو او نجونو سره د تبعيض په اړه، ۲۰۲۳ د مې ۱۳مه. https://www.ohchr.org/sites/default/files/2023-06/A_HRC_53_21-AEV-Dari.docx

۱۹ .د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړيواله اعلاميه، د ۱۹۴۸ کال تصويب شوی۲۶مه ماده. د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو بين المللي کميسيون، د ۱۹۶۶ کال تصويب شوی، ۳۱مه ماده..

طالبانو تر دا مهاله له هیڅ ډول انعطاف او د خپل توپیري چلند له حقوقي پایلو څخه له وېرې پرته، د بشري حقونو پر ټولو موازینو او منل شویو معیارونو سترګې پټې کړې دي، او ښځو سره یې توپیر او پراخ ظلم او ستم ته دوام ورکړی. لکه څنګه چې، نږدې په تېرو دوو کلونو کې، یو شمېر نجونې د تعلیم او زدکړو څخه له محرومېدو وروسته یو شمېر نجونو پټ ښوونیز کورسونه جوړ کړل، خو دغه کورسونه د طالبانو له خوا په ګوته او وتړل شول. **په دایکنډي ولایت کې د طالبانو استخباراتو، د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۵مه یو ښوونیز کورس چې په پټه یې فعالیت کاوه، په نښه او وتاړه. یوې ښځینه ښوونکې د دې کورس په جوړولو په خپل کور کې د ښځو او نجونو لپاره د زده کړو زمینه برابره کړې وه چې د طالبانو د استخباراتو له خوا په نښه شول. طالبانو دغه ښوونکې د استخباراتو اداري ته احضار کړه او د سیمې د سپین ږیرو په حضور کې یې ترې ژمنه واخسته چې خپل ښوونیز فعالیتونه ودروي.**

**همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۱٦مه، په غزني ولایت کې  د طالبانو د امربالمعروف اداري او پوهنې ریاست نجونې د کمپیوټر او انګلیسي ژبې له زده کړې منعه کړې او خصوصي ښوونیزو مرکزونو ته یې خبرداری ورکړ چې د نجونو لپاره خپل ښوونیز فعالیتونه ودروي.**

## ۲. د کار او بوختیا له حق څخه محرومیت

د کار او بوختی‌یا حق ته د مساوي لاسرسي حق د انسانانو بل حق دی، چې د بشر حقونو په بین المللي اسنادو او معاهدو کې پیژندل شوی او تضمین شوی دی. د جنسیت او قوم، مذهب او ژبې پر بنسټ هر ډول تبعیض او استثنا د کار حق ته په لاسرسي کې منعه شوې دي. [۲۰] ښځو سره د هر ډول تاوتریخوالي د مخنیوي کنوانسیون غړي دولتونه مکلف کړي دي چې د کار په برخه کې له ښځو سره د تبعیض هره بڼه له منځه یوسي او د ښځو او نارینه ؤ د برابرۍ د اصل پر بنسټ د کاري فرصتونو د برابرولو لپاره اغیزمن اقدامات ترسره کړي.[۲۱] خو طالبانو نږدې په دوه کاله موده کې د ډېر شمېر فرمانونو، اعلامیو او مقرراتو په صادرولو ښځې په دولتي او غیر دولتي موسسو، سفارت خونو، رسنیو، ورزشي، هنري او فرهنګي برخو کې له کاره منعه کړې دي. دا مهال یواځې ښځې استادانې په لومړنیو ښوونځیو کې تر شپږم ټولګي او عمدتاً د ولایتونو په مراکزو کې د روغتیایي برخو کارکوونکې د حجاب او شرعي محرم په درلودلو خپل کار ته دوام ورکوي.

**د ۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۵مه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د معاونیت دفتر اعلان وکړ چې طالبانو خبر ورکړی چې له دې وروسته هیڅ ښځه د ملګرو ملتونو په اړوندو سازمانونو کې د کار حق نه لري. په همدې حال، د طالبانو سیمه ییزې اداري د صادرو شویو فرمانونو د تعمیل لپاره هڅې کوي او د اجراء څارنه یې کوي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د جون پر ٦مه د کندهار ولایت د ګډوالو او راستنېدونکو ریاست د دې ولایت د مهاجرینو په چارو کې فعالو ټولو غیر دولتي سازمانونو ته د ښځو د کار د ممنوعیت**

۲۰ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹٤۸ کال تصویب شوی، ۲۳مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۶ او ۷ مادې.

۲۱ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، ښځو سره د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون، د ۱۹۷۷ کال تصویب شوی، ۱۱مه ماده.

په اړه خبرداری ورکړی دی. [۲۲]

طالبانو تر اوسه په ښکاره توګه د افغانستان د ښځو انساني آزادۍ سلب کړې دي او د تبعیضي سیاستونو په اجرا کولو سره یې هغوی په بېلابېلو برخو کې له کار او بوختیا څخه محرومې کړې دي. له کوره بهر له کار څخه د ښځو منعه کول او له ټولنې څخه د هغوی عمدي حذفولو سختې او زیانمنوونکې پایلې درلودلې دي او د فقر او نورو ټولنیزو معضلو د پراخېدو سبب شوي.

## ۳. روغتیايي خدمتونو ته محدود لاسرسی

له روغتیايي خدمتونو او مراقبتونو برخمنېدل د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې د ټولو افرادو لپاره په رسمیت پېژندل شوی حق دی او له دې حق څخه د جنسیت پر بنسټ یا په نورو دلایلو د افرادو عمدي محرومول په کلکه منعه شوي دي.[۲۳] د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون چې په ۱۹۶۶ کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له خوا تصویب شوی، غړي دولتونه مکلف ګرځولي چې دې حق ته د هیوادوالو د لاسرسي د اسانتیا لپاره لازم اقدامات ترسره کړي. خو طالبانو پر افغانستان د حاکمې ډلې په توګه چې سیاسي واک په لاس کې لري، د خپلو ژمنو برعکس، محدودونکي اقدامات ترسره کړي دي، چې روغتیايي خدمتونو ته د ښځو د لاسرسي پر وضعیت یې اغېز کړی. لکه څنګه چې دا مهال ښځې پرته له شرعي محرم څخه حتا د روغتیايي خدمتونو لپاره هم له کوره د وتلو حق نه لري. له هغو ښځو سره د ناوړه چلند ډېر شمېر شواهد شته چې له یو نارینه شرعي محرم پرته یې روغتیايي مرکزونو ته مراجعه کړې وه.

له بل پلوه، د روغتیايي خدمتونو وړاندې کوونکو مرکزونو کې د ښځو کارکوونکو شمېر له همدې امله کم شوی دی. لکه د پکتیا، پکتیکا، خوست، نورستان، لوګر او کنړ ولایتونو په یو شمېر ولسوالیو کې په روغتیايي مرکزونو کې هیڅ ښځه کارکوونکې نشته. په یو شمېر دې ولسوالیو کې چې پخوا هم د طالبانو تر کنټرول لاندې وې، ښځو نه شوه کولای په روغتیايي مرکزونو کې کار وکړي. پر همدې بنسټ، دا مهال په روغتیايي مرکزونو کې د ښځو د نشتوالي، د امکاناتو کمښت، د طالبانو له خوا د ټاکل شویو ټولنیزو محدودیتونو او د کورنیو د پوهاوي د ټیټې کچې له امله، د کلیو مېندوارې ښځې نشي کولای په روغتونونو کې ماشومان وزیږوي.

## ۴. د آزاد تګ راتګ حق

طالبانو نږدې په تېرو دوو کلونو کې، د ښځو د آزاد تګ راتګ او تفریحي، ورزشي ځایونو، پارکونو او زیارتونو ته د ښځو د آزاد لاسرسي مخه نیولې. سره له دې د ۲۰۲۳ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې دا محدودیتونه، چې ورپسې کرښو کې به یې ولولئ، لا ډېر شوي هم دي. طالبانو په سازمان شوي تبعیض د ښځو بنسټیزې آزادۍ په قصدي محدودولو سره په واقعیت کې د ښځو پر کرامت او انساني منزلت برید کړی او د دې هیواد د انساني ټولنې د یوې برخې په توګه یې د دوی وړتیا سلب کړې ده. د ژوند په بېلابېلو چارو کې د افرادو وړتیا او ځواک د آزادۍ له حق څخه برخه منېدل غواړي، چې طالبانو دغه آزادي د افغانستان له ښځو اخستې ده. دا مهال ښځې او نجونې نه یواځې د کار او تعلیم له حقه محرومې دي، بلکې حتا اجازه نه لري چې د نږدې خپلوانو د لیدلو په خاطر د یو سړي له ملتیا پرته له کوره ووځي.

۲۲ د غیر دولتي موسسو د انسجام ریاست، مالي او د همغږۍ معینیت، د طالبانو د اقتصاد وزارت، ۴۲۹۳ شمېره لیک.

۲۳ د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۲۵مه ماده. د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۱۲مه ماده.

له هغو ښځو سره چې له محرم پرته عمومي ځایونو ته تللې، د طالبانو او په ځانګړي ډول د دوی د امربالمعروف اداري د ناوړه چلند ډېر راپورونه شته. حتا ښځې د محرم د نه درلودلو له امله نیول شوي او شکنجه شوې هم دي. **په کندهار ولایت کې د طالبانو د امربالمعروف رئیس د ۲۰۲۳ کال د مي پر ۸مه نېټه د دې ولایت د ولسوالیو د تلاشي پوستو ته امر کړی، هغه ښځې چې په سینګار او په نکریزو سرو لاسونو له کوره وځي باید پوښتنې ګرووېږنې ترې وشي.** په هرات ولایت کې هم طالبان موټر او نقلیه وسایط ګوري چې له محرم پرته ښځې په ننبه او د هغوی د سفر مخه ونیسي. د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ پر ۷مه د طالبانو د امربالمعروف مسئولینو د ښار ټکټ پلورونکو ته خبرداری ورکړی چې له دې ورسته له محرم پرته ښځو ته ټکټ ور نکړي او د هغوی د سفر زمینه برابره نه کړي. همدا راز، له بامیان ولایت څخه یو تن رواداري ته ویلي چې د محرم نه درلودلو له امله طالبانو له بامیانو څخه کابل ته له سفره راګرځولې ده.



Photo (C) REUTER Stringer

## ۵. عدالت ته د تاوتریخوالي د قرباني ښځو د لاسرسي نشتوالی

د رواداري موندنې ښیي چې واک ته د طالبانو له رسېدو څخه په ټول هیواد کې ښځو سره د تاوتریخوالي او ځورولو بېلابېلې بڼې زیاتې شوې دي؛ ځکه طالبانو مخکني قوانین لغوه کړي دي او هغه ځانګړي بنسټونه یې له منځه وړي چې ښځو سره د تاوتریخوالي جرمونو ته د رسېدو لپاره رامنځته شوي ؤ. دا مهال ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي او د جرم ګڼلو لپاره کوم قانون نشته او د تاوتریخوالې قربانیان نشي کولای عدالت ته ورسیږي؛ بلکې د طالبانو پر عدلي او قضایي نظام حاکم د ښځو ضد او تبعیض ډوله چلند له امله ښځې له دوه برابره تاوتریخوالي او ناوړه چلندونو سره مخامخې دي.

**د رواداري د څېړنو د پایلو پر بنسټ، طالبان د ښځو د شخصیه احوالو اړوند قضیو ته په رسېدنه کې توپیري چلند کوي او ښځو سره د تاوتریخوالي قضیې یا له نظره غورځوي او یا یې د قرباني په زیان فیصله کوي. لکه څنګه چې دا مهال د طالبانو په عدلي او قضایي بنسټونو کې هیڅ رسمي دوسیه د تاوتریخوالي د قرباني ښځو د شکایت پر بنسټ نه ترتیبیږي او حتا د ښځو حادې جزایي قضیې یا د طالبانو د امربالمعروف په اداره کې هواریږي او یا غیر قضایي میکانیزمونو لکه سیمه ییزو جرګو ته راجع کیږي.**[۲۴]

۲۴ رواداري، د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې عدالت ته د لاسرسي د وضعیت رپوټ، جون https://rawadari.org/040620231612.htm/

# ۳

# پایله او وړاندیزونه



Photo (C) mohammad-husaini-FAmcwEDSU8c-unsplash

## پایله

د دې څېړنې پایلو وښودله چې د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په ټول افغانستان کې د بشر حقونو د نقض ډېرې پېښې شوې دي او د طالبانو په تبعیض ډوله سیاستونو او مقرراتو کې هیڅ مثبت بدلون نه دی تر سترګو شوی؛ بلکې د هیوادوالو د ژوند په بېلابېلو برخو لا ډېر محدودیتونه تپل شوي دي؛ په ځانګړي ډول د ښځو پر آساسي آزادیو. دا مهال د افغانستان ښځې او نجونې له خپلو تر ټولو لومړنیو حقونو لکه کار، زده کړو او تحصیل څخه محرومې دي او طالبان د مسئولیت له هر ډول احساس پرته، تبعیض او د ښځو د اساسي آزادیو لا نورو نقضولو ته دوام ورکوي.

د طالبانو له خوا هدفي او له محاکمې پرته وژنې، شکنجه او زندانیانو سره ناوړه چلند، د مخکني حکومت له کارکوونکو څخه مرګونی بدل اخستل، د افرادو خپلسري او غیر قانوني نیونه، په تاوتریخوالي سره د اعتراضي او عدالت غوښتونکو فعالیتونو ځپل او ورپسې د خپلو مخالفینو او منتقدینو په منځ کې د وېرې او ډار د فضا رامنځته کول په ټولیزه توګه په افغانستان کې د بشر حقونو د بحراني وضعیت ښکارندویي کوي.

سره له دې، طالبان د خپلو کړو پر وړاندې ځواب ویونکي نه دي، او تر اوسه یې د بشر حقونو د ارزښتونو او موازینو د رعایت لپاره هیڅ ژمنتیا نه ده ښودلې. د همدې له مخې، د سیمې د هیوادونو او د اسلامي هیوادونو د مشرانو په ګډون نړیواله ټولنه دې د حاکمې ډلې د غیر قانوني چلندونو پر وړاندې او په دې هیواد کې په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو د بشري حقونو سازمان شوي نقض ته د پای لپاره اغېزناک نقش ولوبوي.

## وړاندیزونه

رواداري په افغانستان کې د بشر حقونو د سخت او له ننګونو ډک وضعیت ته د رسېدو لپاره لاندې موارد نړیوالې ټولنې او حاکمو مقاماتو ته د وړاندیزونو په توګه وړاندې کوي.

نړیوالې ټولنې ته:

- په افغانستان کې د بشر حقونو پراخ او سیستماتیک نقض ختمول، د معافیت له کلتور سره د مبارزیاو پر افغانستان د حاکمې ډلې په توګه له طالبانو څخه ځواب غوښتلو ته اړتیا لري. پر همدې بنسټ، له نړیوالې ټولنې غواړو چې له قانوني ابزارو او د بشري حقونو له بین المللي میکانیزمونو څخه په ګټې اخیستنې د بشر حقونو د تضمین او د طالبانو د غیر قانوني چلندونو پر وړاندې د هیوادوالو ملاتړ لپاره اغېزناک اقدامات ترسره کړي. باید د ملګرو ملتونو د بشر حقونو شورا د بین المللي جنایي محکمې په ګډون له ټولو میکانیزمونو او شته لارو چارو څخه په استفادې  حاکم مقامات حساب ورکولو ته اړباسي.
- په افغانستان کې د پر تلپاتې سولې او د بشر حقونو پر ارزښتونو ولاړې ټولنې ته رسېدل د ښځو د انساني حقونو او آزادیو له تضمین پرته ممکن نه دي. په افغانستان کې د ښځو د حقونو پراخ او منظم نقض د جنسیتي اپارتاید مصداق دی او په هیواد کې د فقر، افراط او بحران لامل ګرځي. د سیمې د هیوادونو او اسلامي هیوادونو په ګډون نړیواله ټولنه باید په افغانستان کې د جنسیتي اپارتاید په منلو سره، له روان وضعیت سره متناسب ځواب ولري.
- له نړیوالې ټولنې غواړو چې په افغانسان کې د مخکني حکومت د کارکوونکو او د هغوی د کورنیو د امنیت او مصئونیت لپاره اقدام وکړي، چې د طالبانو له خوا د د بدل او انتقام اخستنې په خطر کې ژوند کوي. په دې اړوند دې له حاکمو مقاماتو سره خبرې وشي، ډاډ دې ترلاسه شي او هم دې د قربانیانو د کورنیو لپاره د شکایت د ثبتولو امکان برابر شي.

- د ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړو چې د طالبانو تر کنټرول لاندې د زندانونو د وضعیت په اړه او په ځانګړي ډول زندانیانو سره د ناوړه چلند او شکنجې پېښې او هم د شخصي او غیر قانوني زندانونو درلودل وڅېړل شي او خپلې موندنې د افغانستان له خلکو او حقوق بشري سازمانونو سره شریکې کړي.

حاکمو چارواکو ته:

- له حاکمو چارواکو غواړو چې د بشر حقونو د بین المللي اسنادو د مفادو د درناوي لپاره پر خپلو قانوني ژمنو او مکلفیتونو عمل وکړي او تر دې زیات د افغانستان د خلکو د بشري حقونو د نقض مرتکب نشي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د ښځو بنسټیزو حقونو، قومي او مذهبي لږکیو او د افغانستان د انساني ټولنې د یوې برخې په توګه د نورو ټولنیزو ډلو درناوی وکړي او په دې برخه کې عملي تدابیر پلي کړي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د مخکني حکومت د کارکوونکو، د بشر حقونو د مدافعانو او د خپلو منتقدانو او مخالفانو له محاکمې پرته وژنې ودروي او د تېر حکومت د کارکوونکو د امنیت او مصئونیت د تامین لپاره اقدامات اعلان او اجراء کړي، او هم د نامعلومو کسانو له خوا د مشکوکو او پرته له محاکمې وژنو ته د رسېدنې لپاره د خپلو اقداماتو اړوند راپور او معلومات وړاندې کړي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې خپلسرو او غیرقانوني نیونو او له بندیانو سره ناوړه چلند او شکنجې ته د پای ټکی کیښږدي او حقوق بشري بنسټونو ته د زندانونو د څارنې منظمه زمینه برابره کړي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د خپلو قانوني مکلفیتونو پر بنسټ، له جګړې پاتې شویو موادو باندې د ککړو سیمو پاکولو ته جدي پاملرنه وکړي او په دې برخه کې اغېزناک اقدامات ترسره کړي.

www.rawadari.org